SHTAMANAI
شتمنی

درنو هیوادوالو!
په خپله خوښه د حقیقي مالیاتو ورکړه د هیواد د ځان بسیاینې پر لور گام دئ او د مالیاتو عواید ستاسي د ښوونکو، ډاکټرانو او امنیتي ځواکونو پر تنخواؤ لگول کیږي؛ نو د مالیاتو په ورکړې سره خپله ملي دنده ترسره کړئ.

شنبه | ۲۴ ذوالحجه / ۱۴۴۳ / ۱ اسد ۱۴۰۱ | ۲۳ جولای ۲۰۲۲ | سال اول | شماره ۲۴ | ٤ صفحه



# د مالیې وزیر د کجکي بریښنا بند څخه لیدنه وکړه



د مالیې وزیر الحاج ملا هدایت الله بدري، هلمند ولایت کې د کجکي بریښنا بند څخه له نږدې لیدنه وکړه. په دې لیدنه کې چې د مالیې له وزیر سره یو شمېر دولتي چارواکو، د سیمي قومي مخورو او علماوو ملتیا کوله د کجکي بریښنا بند او د هغه ترکي شرکت چې هلته یې پانگونه کړې ده لیدنه وکړه او د دې شرکت د ترسره سوو کارونو ستاینه یې وکړه. د مالیې وزیر د یاد شرکت له مسؤلینو سره په خبرو کې د دوی د چارو د ستاینې ترڅنگ وویل، چې موږ غواړو دغه شرکت د افغانستان په نورو برخو کې هم پانگونه وکړي. نوموړي زیاته کړه، چې افغانستان اوس مهال د هر راز پانگونې لپاره ښه فرصتونه لري او په دې برخه کې هیڅ راز امنیتي ستونزه نسته.

د یادونې وړده، چې د مالیې وزیر الحاج ملا هدایت الله بدري، د روان کال په اوږدو کې د افغانستان د یو شمېر گمرکونو، د ولایتونو له مستوفیتونو او یو شمېر دولتي بنسټونو څخه هم له نږدې لیدنه کړې ده، چې ترڅنگ یې له سوداگرو او صنعت کارانو سره په پرلپسې توگه ناستې کړې، د دوی ستونزې یې له نږدې اورېدلي او د اسانتیاوو برابرولو په موخه یې د مالیې وزارت له لوري د امکاناتو او قوانینو په رڼا کې د هر اړخیزو همکاریو ژمنه هم کړې ده. د دې سفرونو څه د مالیې وزارت د رهبري موخه دا ده، چې د کارکوونکو کارونه و ارزوي او وې هڅوي؛ ترڅو افغانستان د ځان بسیاینې پر لور چټک گامونه واخلي.

# له ایران سره د ۳۵۰ زره ټنو نفتي موادو د پېرلو هوکړه لاسلیک سوه

افغان حکومت د هیواد په بازارونو کې د نفتي توکو د کنټرولو او بیو را ټیټولو په موخه له گاونډي هیواد ایران څخه ۳۵۰ زره ټنه نفتي مواد را واردوي. د افغانستان د نفت او گاز دولتي شرکت د مالیې وزارت، بهرنیو چارو وزارت او سوداگرۍ وزارت، همدا راز د افغانستان بانك، او نورم او سټندرډ اداري گډ پلاوي د ایران اسلامي جمهوریت ته د نفتي موادو د پیرلو په موخه رسمي سفر وکړ. د دې سفر په ترڅ کې یاد پلاوي د افغانستان د سفارت په همکاري د افغانستان په چارو کې د ایران د ولسمشر له استازي، د نفتي موادو د دولتي او سهامي شرکتونو له مسؤلینو سره د نفتي موادو د پېرلو، کیفیت، نرخونو، ټرانزیټ او سوداگرو ته د اړینو اسانتیاوو برابرولو او افغانستان ته یې د واردولو په تړاو خبري اتري کړي دئ. په دې سفر کې د افغانستان د پلاوي او ایران دولت لخوا د یولړ همکاریو تر څنگ د G۲G یا دولت په دولت قرارداد، د نفتي موادو د پایپ لاین غځولو، گډو تصفیه خونو جوړولو او د اوږدمهاله هوکړو ترسره کولو اړوند موضوعاتو لپاره د دواړو اړخونو لخوا د یوې گډې کمېټې پر رامنځته کېدو هم هوکړه وسوه. همدا شان د افغانستان په بازارونو کې د نفتي توکو د بیو لوړېدو له امله د ایران هیواد د یو خاص سهامي شرکت سره د شا و خوا ۳۵۰زره ټنه نفتي موادو د پېرلو هوکړه لاسلیك سوه، چې په لنډو ورځو کې به یې افغانستان ته واردول پیل سي او ورسره به د هیواد په بازارونو کې د نفتي توکو بیې راټیټې سي. همدارنگه د دواړه لوریو ترمنځ هوکړه وسوه، هغه افغان خصوصي شرکتونه چې په ایران کې د نفتي توکو معاملې ترسره کوي د افغان حکومت له لوري به په رسمي توگه ور معرفي کیږي.



سرمقاله

## با ایجاد سهولت های مناسب می توان از تولیدات داخلی حمایت کرد

برای رشد و توسعه اقتصادی باید بر محصولات و صنایع داخلی تکیه گردد، از این رهگذر دولت های در حال توسعه باید زمینه های رشد تولید داخلی و کالا های محلی را بالا ببرند؛ تولیدات ملی زمانی در یک کشور بلند رفته و به رشد می رسد که نه تنها توسط قوانین و مقررات داخلی مورد حمایت و تشویق قرار بگیرند بلکه از لحاظ مصرفی از کیفیت مرغوب برخوردار باشند و باید توسط ابزارها و شیوه های قانونی قیمت آن نسبت به اجناس وارداتی بالمثل به کمترین قیمت ممکن برای مشتری عرضه گردد.
یکی از ابزار های بسیار مهم جهت نیل به هدف مذکور ایجاد سهولت برای تجار وسرمایه گذار می باشد. باایجاد سهولت های مناسب می توان از تولیدات داخلی حمایت کرده تا آنها در برابر کالا ها و اقلام وارداتی از پشتوانه ای اقتصادی برخودار گردد.
در این راستا وزارت مالیه کشور تلاش نمود تا بتواند سهولت های لازم را برای تجار کشور فراهم نماید.
در این مورد یکی از دستاورد های بزرگ وزارت مالیه افغانستان راه اندازی و نصب سیستم های الکترونیک در ادارات و ارگان های مهم این وزارت می باشد، که بدست آوردن این اولویت های وزارت مالیه باعث هم آهنگی فعالیت های اقتصادی و امور اداری گردیده، لازم است که انقلاب الکترونیکی در تمام سطوح و بدنه های اداراتیکه وظیفه تجارت افغانستان با سایر واحد سیاسی را دارد در وزارت مالیه بوجود بیاید.
تجهیز گمرکات کشور به سیستم های پیشرفته از جمله پرداخت الکترونیکی، ضمن اینکه به میزان قابل توجهی مشکلات مربوط به صادرات و واردات کالا ها را کاهش می دهد، سرعت لازم را در ارایه خدمات به مردم نیز فراهم کرده و زمینه های شکل گیری حکومت داری خوب را عملاً فراهم مینماید. به همین دلیل روابط این وزارت با تجار ملی و سرمایه گذاران به شکل قابل توجهی بهبود می یابد. فراهم آوری سهولت به نحوه خود برای پشرفت تجار وسرمایه گذار موثر واقع شده ، تجار می توانند که اموال خود را بدون کدام مشکلات صادر ویا وارد نمایند، در این صورت عواید خوبی در بودجه ملی واریز می شود. این کار به نحوه خود یک گام مثبت در راستایی خود کفای کشور به حساب خواهد آمد.
-




### په لومړي ځل د خوست او ابونصر فراهي په گمرکونو کي د صادراتي توکو د وزن معلومولو لپاره تلي گټي اخیستني ته وسپارل سوې

م ۲



### شرح مختصر در مورد روند ترتیب،تطبیق و نظارت از بودجه ملی

م ۳



### له ژوند سره د ژوندیو انسانانو چلند باید څنگه وي؟

م ٤



### افمس AFMIS یا د افغانستان د مالي مدیریت معلوماتي سیستم

م ۲



### د گمرکونو لوی ریاست سرپرست د ډېرو سکرو د ترانزیتي شرکتونو له استازو سره وکتل

م ۲

شتمنۍ
SHTAMANAI

# په لومړي ځل د خوست او ابونصر فراهي په گمرکونو کي د صادراتي توکو د وزن معلومولو لپاره تلي گټي اخيستني ته وسپارل سوې

د گمرکونو لوی ریاست په لومړي ځل د خوست او ابونصرفراهي په گمرکونو کي د صادراتي توکو د دقیق وزن معلومولو په موخه انالوگ تلي فعاله او گټي اخیستني ته وسپارلې.



د یادو تلو په فعالولو سره سوداگرو، موټر چلونکو او د گمرك كاركونكو ته د اسانتیا برابرولو تر څنگ د زیات وزن او د ملي عوایدو له تېښتي څخه به هم مخنیوی وسي.

د ابونصرفراهي گمرك نوې فعاله سوې تله ۲۲ متره اوږوالی او ۱۰ دانې لوډسیلونه لري، همداشان د خوست گمرك تله ۱۸ متره اوږدوالی او ۸ دانې لوډسیلونه لري، چي هره تله د ۱۵۰ ټنه وزن د پورته کولو وړتیا لري.

پر یادو تلو شاوخوا ۸ میلیونه افغانۍ لگښت راغلی، چي پیسې ئې د مالیې وزارت له بودیجې څخه تمویل سوي دي او کار ئې د یو افغاني شرکت له لوري د درېیو میاشتو په موده کي پای ته ورسېد. د یادوني وړ ده، چي ډېر ژر به د نیمروز گمرك او حیرتانو بندر کي هم

# د گمرکونو لوی ریاست سرپرست د ډبرو سکرو د ترانزیتي شرکتونو له استازو سره وکتل



د گمرکونو لوی ریاست سرپرست ښاغلي مفتي عبدالمتین سعید د گمرکونو او عوایدو معینیت د غونډو په تالار کي د ډبرو سکرو د ترانزیتي شرکتونو له استازو سره وکتل.

په دې کتنه کي چي د مالیې وزارت د کورنۍ پلټني لوی ریاست سرپرست ښاغلي انجنیر عبداللطیف خالد او د گمرکونو لوی ریاست یو شمېر رئیسانو هم گډون کړی وو، دواړو لوریو د شیرخان بندر او حیرتان گمرك له لاري د ډبرو سکرو د ترانزیټ پر شته ستونزو او حل لارو هر اړخیزي خبري وکړې او په اړه یې لازمي پرېکړې وسوې.

# افمس AFMIS یا د افغانستان د مالي مدیریت معلوماتي سیستم

افمس AFMIS یا د افغانستان د مالي مدیریت معلوماتي سیستم:

افمس یا (د افغانستان د مالي مدیریت معلوماتي سیستم) چې د مالي چارو د تنظیم،کنټرول او راپور ورکونې برخه کې په نړیوالو سټندرډونو او معیارونو سمبال پرمختللی برېښنایي سیستم دی د هېواد په عامه مالي سکټور کې مالي چارې لکه د بودیجې ثبت او اجرا، د معاشونو او لگښتونو تادیه، د قراردادونو، هوکړو او د ورځنیو عوایدو ثبت او تعقیب کې ترې په شفاف او چټک ډول گټه اخیستل کېږي.

افمس د مالي چارو د اصلاح، کنټرول، شفافیت، چټکتیا او حساب ورکولو برخه کې خورا حیاتي رول لري، نو له همدې امله په مالي چارو کې د شفافیت راوستو او د فساد مخنیوي کې مثبت ثابت شوی دی، چې په نړۍ کې تر ۲۰و زیات مخ پر ودې هېوادونه گټه ترې اخلي.



افمس (د افغانستان د مالي مدیریت معلوماتي سیستم) لاندې کړنې تر سره کوي:

۱. په مرکز کې ۵۱ بودیجوي واحدونو ته د معاشونو او نورو مالي لگښتونو اجرا.
۲. په ۳۴ ولایتونو کې د مستوفیتونو له لارې دوهمو بودیجوي واحدونو ته د معاشونو او نورو لگښتونو تادیه.
۳. د تصویب شوې عادي او پراختیایي بودیجې سره سم د لگښتونو اجرا او کنټرول.
٤. مرکز او ولایتونو کې د عوایدو ثبت.
٥. د بودیجې له تصویب وروسته ټولو ولایتونو ته د نقدي شتمنیو لیږد.
٦. د دولتي قراردادونو ثبت او د مهالویش سره سم یې تادیه کول.
۷. وزارتونو، خپلواکو ادارو او تمویل کوونکو ته په مالي چارو کې د تصمیم نیونې په موخه د راپور چمتو کول.

اومالي تطبیقات او قطعې ته د مالي معلوماتو چمتو کول.

د یادونې وړ ده، چې افمس سیستم د نورو دولتي ادارو له سیستمونو سره د وصل کیدو وړتیا هم لري، چې اوس مهال د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو ریاست له (HRMIS) سیستم، د افغانستان بانک له بین البانکي تادیاتو( ATS/APS) سیستم او د ملي دفاع او کورنیو چارو وزارتونو د معاشونو د تادیاتو(APPS) سیستم سره وصل دی او همدارنگه یاد سیستم ټولو وزارتونو او خپلواکو ادارو د مالي برخې کارکوونکو ته د (۲۴) ساعته لاس رسي تر څنگ د مالي ارقامو راپور ورکونې، شفافیت، چټکتیا او له اړتیا سره سم د مالي چارو د راپور اخیستنې زمینه هم برابروي.

**گام پر گام د برېښنایي حکومتولۍ پر لور**

# حکومت داری الکترونیکی زمینه ساز کاهش بروکراسی



پلان تحول و اصلاحات یکی از برنامه های کلان و مهم بوده که اجرای آن یکی از الزامات بنیادی امارت اسلامی به شمار میرود ، این پلان موضوعات مالی و اقتصادی را نیز شامل می شود که وزارت مالیه به حیث متوالی امور اقتصادی و مالی در نظر دارد تا مسیر و راه های خود اتکایی اقتصادی را به منظور رفع نا بسامانی های موجود اقتصادی جامعه ، طرح و اعمال نماید.

طرح بزرگ و بنیادی این وزارت شامل ارکان اصلاح نظام مالیاتی ، نظام گمرکی ، نظام شبکه های بانکی مدرن ، نظام تنظیم و تهیه کالاها و خدمات و صدور مجوزها ، و نظام اداری کارآ و سالم می باشد از جمله رکن اساسی حوزه های یاد شده اصلاح نظام اداری و اقتصادی کشور است که به طور مستقیم و روزمره ، با زنده گی اقتصادی مردم ارتباط دارد ، ایجاد اصلاحات در آنها اولویت مهمی برای وزارت مالیه هست.

وزارت مالیه افغانستان برای اینکه بتوانند همراستا و همگام با اقتصادی جهانی حرکت نمایند تلاش دارند تا زیر ساخت ها و ظرفیت های اقتصادی و مالی کشور را از اساس دگرگون ساخته و در تمام زمینه های اداری ، مالی و حکومت داری مدرن گام های اساسی را بردارند یکی از مهم ترین اموری که در این راستا به دولت افغانستان و وزارت مالیه کمک می کند و بایستی وزارت مالیه به آن توجه جدی نماید الکترونیک ساختن امور مربوط به موضوعات مالی ، اقتصادی و اداری است ، امارت اسلامی از ابتدا تلاش خود را بالای موضوع فوق متمرکز نموده و می کوشد که از وضعیت موجود به وضعیت مطلوب برسد و برای رسیدن به این امر مهم لازم است که دولت الکترونیک شکل بگیرد.

یکی از الزامات اساسی وزارت مالیه افغانستان راه اندازی و نصب سیستم های الکترونیک در ادارات و ارکان های اصلی که بخش اساسی و زیر مجموعه های عمومی وزارت مالیه را تشکیل میدهد می باشد که این اولویت ها باعث انطباق فعالیت های اقتصادی و امور اداری این وزارت با شرایط بسیار متحول و فراگیر تجارت جهانی است ، برای حرکت در این جهت لازم است که انقلاب الکترونیکی در تمام سطوح و بدنه های وزارت مالیه شکل بگیرد.

برای اینکه وزارت مالیه به استاندرد های جهانی برسد باید خود را با سایر ادارات دنیا هماهنگ سازد و برای بدست آوردن این مهم لازم است که در مسیر دولت الکترونیکی گام گذاشته شود تا امارت اسلامی بتواند به صورت الکترونیک با دنیا ارتباط داشته باشد و آمار و اطلاعات تجارتی و مالی را به صورت آنلاین مبادله نماید ، موضوعی که باعث کاهش بروکراسی ، فساد اداری و بسیار از امراض مضمن که گریبانگیر سازمان های مالی است میگردد.

ازطرف دیگر جایگزینی سیستم های جدید الکترونیکی به جای سیستم های پیچیده و پر جنجال اسناد کاغذی در ادارات باعث کاهش فرایند ها و پروسه های اداری شده و به دولت ها کمک می کند که گام های بلندی را در راستای مسلکی سازی امور بردارند و هم چنان این امر در کاهش بروکراسی و فساد اداری هزینه های اقتصادی و صرفه جویی در زمان به دولت ها کمک میکند.

شتمنی
SHTAMANAI

# شرح مختصر در مورد روند ترتیب،تطبیق و نظارت از بودجه ملی

یکی از وظایف عمده وزارت مالیه ترتیب و طی مراحل بودجه ملی میباشد. بودجه عبارت ازسند قانونی و پلان مالی دولت بوده که در برگیرنده جمیع عواید و مصارف میباشد و انعکاس دهنده فعالیت ها و انکشافات در ساحات اقتصادی، اجتماعی، فرهنگی ، دفاعی و غیره موارد میباشد که برای مدت معین معمولاً یک سال ترتیب میگردد. باید گفت پروسه ترتیب بودجه حدود ۹ ماه قبل از ختم سال مالی جاری آغاز میگردد که شامل موضوعات ذیل میباشد.

تقویم بودجهٔ: تقویم بودجه بمنظور مشخص نمودن فعالیت های کلیدی روند بودجه سازی توام با زمانبندی آن صادر میگردد.

سند استراتیژی مالی (FSP): وزارت مالیه چارچوب میان مدت بزرگ (Macro Fiscal Framework) مالی را مشخص نموده که در کل روند بودجه سازی را هدایت مینماید. این استراتیژی در میان مدت دورنمای عواید، کتگوری های عمدهٔ مصارف و کمک ها را ارائه میدارد. همچنان بر اساس میلان مصارف در سال های گذشته که اساس بودجهٔ سال مالی آینده برای پالیسی های موجود را تشکیل میدهد، مصارف چندین ساله را پیشکش مینماید.

a. پالیسی موجود: هزینه های پالیسی های موجود در پیش بینی های چندین ساله تخمین میگردد و به اساس آن مصارف مبدأ و محدودهٔ مالی مشخص میگردد. باید یاد آور شد که مصارف مبدأ یا بودجه مبدأ سطح فعلی خدمات را نشان میدهد که وزارت مالیه سقف بودجه مبدأ را ذریعه رهنمود ترتیب بودجه به تمام ادارات ارسال مینماید تا ادارات مطابق آن بودجه مبدأ شان را ترتیب و عیار نمایند. به همین شکل محدوده مالی با استفاده از صرفه جویی و افزایش عواید بوجود میاید تا به فعالیت ها یا پروژه های جدید اختصاص داده شود.

b. پالیسی های جدید دارای اولویت: سند استراتیژی مالی ساحات رُشد و تأثیر گذار روی کاهش فقر را در کوتاه مدت و طویل المدت جهت اولویت بندی در بودجهٔ ملی برجسته مینماید. پالیسی های جدید دارای اولویت باید در مطابقت با استراتیژی ملی کشور باشد.

متحدالمال بودجه یا رهنمود ترتیب بودجه : رهنمود ترتیب بودجه به ادارات ارسال میگردد تا طبق هدایت آن ادارات فعالیت ها و پروژه های جدید مورد نیاز شان را پیشنهاد نموده و بودجهٔ مبدأ شانرا نیز مرور نمایند. ادارات میتوانند فعالیت های جدید شانرا تحت دو کتگوری ذیل پیشنهاد نمایند:

c. بودجه عادی (غیر پروژوی): شامل فعالیت های کاملاً جدید بوده که ماهیت عملیاتی دارند. مانند معلمین جدید برای یک مکتب موجود.

d. بودجه انکشافی (پروژوی): شامل فعالیت های نسبتاً طویل المدت و سرمایوی میباشد، مانند تعمیرات، بند جدید آب و یا توسعهٔ یک شاهراه موجود.

مجالس استماعیه: مجالس استماعیه بودجه بمنظور اختصاص محدودهٔ مالی به پروژه های ارزیابی شده که جدیداً در بودجهٔ ملی سال مالی آینده باید شامل شوند و ارزیابی تمام بودجه ادارات دایر میگردد. به عبارت دیگر ادارات در این جلسات از بودجه شان برای سال مالی آینده دفاع مینمایند. باید متذکر گردید که مجالس استماعیه بودجه توسط کمیته بودجه دایر میگردد که شامل وزارت های مالیه، اقتصاد، امور خارجه و یک نماینده از ریاست عمومی اداره امور میباشد.

مسودهٔ بودجهٔ ملی

ریاست عمومی بودجه، بودجهٔ مبدأ و پروژه های جدید منظور شده را توحید نموده و مسودهٔ بودجهٔ ملی را ترتیب مینماید. سپس مسودهٔ بودجه ملی جهت مرور به کمیته بودجه ارسال میگردد بعد از مرور ، سفارشات و تغییراتی که از جانب کمیتهٔ بودجه پیشنهاد شده، در مسودهٔ بودجه درج میگردد و جهت تصویب به کابینه ارسال میگردد. باید گفت که سند بودجه بعد از منظوری از طرف کابینه به دفتر مقام امارت اسلامی افغانستان جهت تصویب و توشیح ارسال میگردد.

تطبیق و اجرای بودجه ملی : یکی از وظایف عمده و اساسی ریاست عمومی بودجه ملی، کنترول و اجرای بودجه ملی میباشد. بعد از منظوری سند بودجه ملی از طرف مراجع ذیربط ، واحد های بودجوی در محدوده بودجه منظور شده خویش فورمه های ب ۱۰ (بودجه عادی) ، ب ۳ (بودجه انکشافی ) و فورم ب۲۰ (پلان مالی بودجه عادی، انکشافی ) ادارات خویش را ترتیب و ثبت سیستم افمس نموده جهت کنترول و تائیدی به ریاست بودجه ملی ارسال مینمایند.

فورمه ب۱۰ : تقسیمات بودجه عادی را به سطح ولایات و واحد های دومی ادارات برای تمام سال نشان میدهد.

فورمه ب ۳: تقسیمات بودجه انکشافی را به سطح ولایات و واحد های دومی ادارات برای تمام سال نشان میدهد.

فورمه ب ۲۰: تقسیمات بودجه اداره را به سطح ولایات و واحد های دومی با در نظر داشت نوعیت های مصارفاتی و تقسیمات ماهوار را نشان میدهد

در مجموع فورمه های متذکره پلان تطبیقی بودجه یک اداره را در طول سال نشان میدهد به همین ترتیب ادارات بعد از تائیدی فورم های فوق در سیستم AFMISو DAD مرحله اجرای بودجه ادارات شروع میشود که واحد های بودجوی با در نظرداشت پروژه های منظور شده شان در سند بودجه ملی ذریعه فورمه های تخصیصات این اجراآت صورت میگیرد. این فورمه ها شامل فورم ( PO Purchase Order) و فورم( CF )Commitment Form میباشند . فورم PO برای اجرای تخصیصات که قرارداد های شان بالاتر از مبلغ پنجصد هزار افغانی باشد مورد استفاده قرار میگیرد و فورم CF برای خریداری های کوچک که مبالغ شان کمتراز پنجصد هزار افغانی باشد مورد استفاده قرار میگیرد وهمچنان از این فورم برای اجرای معاشات کارمندان بودجه انکشافی نیز استفاده بعمل میاید.



**ترتیب کننده: حبیب الله حبیب سباوون**
**سرپرست ریاست عمومی بودجه ملی**




# اعلان داو طلبی

## د خوندي سندونو د چاپ دولتی شرکت

ټولو ليوالو داوطلبانو ته په خورا درنښت بلنه ورکوي تر څو ددې شرکت د اړتيا وړ يو قلم روغنياتو پروژې تدارکاتي پروسه کې ګډون وکړي، خپل سر تړلي/ بند آفرونه د شرطپاڼې د شرايطو، د تدارکاتو قانون او طرزالعمل سره برابر د ۱۴۰۱ کال د اسد مياشتې تر (۱۷) نېټې، د سهار تر ۱۰:۰۰ بجو پورې، د کابل ښاروالۍ د اومې ناحيې اړوند، چهلستون عموي سړک د جنګلک پخوانۍ فابريکې داخل کې د خوندي سندونو د چاپ دولتي شرکت، دوهم پوړ کې د تدارکاتو آمريت ته تسليم کړي. هېره د نه وي چې نا وخته رسيدلي او د ايميل له لارې راغلي آفرونه نه منل کيږي.

همدارنګه د يادونې وړ ده چې داوطلبان کولای شي؛ شرطپاڼه د فلش له لارې د تدارکاتو آمريت څخه او يا هم (&Hadi.ahmadzai@ahsp.af او کاپی : m.khalidiiu@gmail.com ) برښناليکونو ته د برښناليک استولو له لارې تر لاسه کړي.

داوطلبان مکلف دي د آفر تضمين د شرطپاڼې د شرايطو سره سم، د ۲۵،۰۰۰ افغانيو په ارزښت، په بانکي او يا هم نقدي بڼه د خپل آفر سره يوځای وړاندې کړي. د يادې پروژې د آفر پرانستې غونډه د ۱۴۰۱ کال د اسد مياشتې په (۱۷) نېټه، د سهار په ۱۰:۰۰ بجې د کابل ښاروالۍ د اومې ناحيې اړوند، چهلستون عمومي سړک د جنګلک پخوانۍ فابريکې داخل د خوندي سندونو د چاپ دولتي شرکت ، د غونډو په تالار کې نيول کيږي.

## د خوندي سندونو د چاپ دولتی شرکت

ټولو ليوالو داوطلبانو ته په خورا درنښت بلنه ورکوي تر څو ددې شرکت د اړتيا وړ ۱۵ ټنه غير امنيتي کاغذ پروژې تدارکاتي پروسه کې ګډون وکړي، خپل سر تړلي/ بند آفرونه د شرطپاڼې د شرايطو، د تدارکاتو قانون او طرزالعمل سره برابر د ۱۴۰۱ کال د اسد مياشتې تر (۱۹) نېټې، د سهار تر ۱۰:۰۰ بجو پورې، د کابل ښاروالۍ د اومې ناحيې اړوند، چهلستون عموي سړک د جنګلک پخوانۍ فابريکې داخل کې د خوندي سندونو د چاپ دولتي شرکت، دوهم پوړ کې د تدارکاتو آمريت ته تسليم کړي. هېره د نه وي چې نا وخته رسيدلي او د ايميل له لارې راغلي آفرونه نه منل کيږي.

همدارنګه د يادونې وړ ده چې داوطلبان کولای شي؛ شرطپاڼه د فلش له لارې د تدارکاتو آمريت څخه او يا هم (Hadi.ahmadzai@ahsp.af او کاپی: mk.marwan@ahsp.af ) برښناليکونو ته د برښناليک استولو له لارې تر لاسه کړي.

داوطلبان مکلف دي د آفر تضمين د شرطپاڼې د شرايطو سره سم، د ۳۵،۰۰۰ افغانيو په ارزښت، په بانکي او يا هم نقدي بڼه د خپل آفر سره يوځای وړاندې کړي. د يادې پروژې د آفر پرانستې غونډه د ۱۴۰۱ کال د اسد مياشتې په (۱۹) نېټه، د سهار په ۱۰:۰۰ بجې د کابل ښاروالۍ د اومې ناحيې اړوند، چهلستون عمومي سړک د جنګلک پخوانۍ فابريکې داخل د خوندي سندونو د چاپ دولتي شرکت ، د غونډو په تالار کې نيول کيږي.

## به اعلان سپردن دو جایداد دولتی

قرار است ریاست عمومی املاک دولتی وزارت مالیه دو جایداد دولتی ذیل در مرکز را طور جداگانه بشکل آفر سربسته به اعلان داوطلبی سپرده شود.

۱.موازی۳۲۲ مترمربع زمین سفید واقع سینما پامیر ناحیه اول شهر کابل.

۲. یکباب نانوائی بمساحت٤۸,۵ مترمربع واقع بلاک های رهایشی استادان جمال مینه ناحیه سوم

اشخاص حقیقی وحکمی که خواهان اشتراک در پروسه داوطلبی جایداد های فوق را داشته باشند، میتوانند بعد از تاریخ۲۸ سرطان الی مدت (۲۱) روز درخواستی های شان را به ریاست محترم عمومی املاک دولتی واقع تعمیر ۱٤ منزله سینما پامیر ، منزل هفتم مدیریت عمومی قراردادهای مرکز تسلیم نموده، وبعداز ملاحظه اسناد شرطنامه را دربدل مبلغ (۳۰۰۰) افغانی پول بدون بازگشت اخذ نمایند. خواهشمندیم مطالب فوق را از طریق سایت مربوطه به نشر سپرده تا اجراات که در نظر است مرعی گردد.

# اسیکوډا (ASYCUDA) یا د ګمرکي معلوماتو اتومات سیستم

اسیکوډا (د ګمرکي معلوماتو اتومات) سیستم چې د ګمرکي چارو، محاسبې، د ترانزیتي مالونو ثبت، په شفافه توګه د ګمرکي عواید راټولول، د ګمرکي سندونو طی مراحل، په انلاین ډول سوداګریزو توکو ته د تعقیب او کنټرول زمینه برابروي او همدارنګه د انګلیسي ژبې ترڅنګ د هېواد په ملي ژبو (پښتو او دري) هم د کاروني وړتیا لري.

اسیکوډا(ASYCUDA) په نړیواله کچه د ګمرکي توکو د پړاوونو پر مخ وړلو لپاره یو منل شوی او پرمختللی سیستم دی، چې د نړۍ په شا او خوا ۱۰۰ هېوادونو کې د ملګرو ملتونو له لوري د سوداګریزو چارو د پرمختګ لپاره ترې ګټه اخیستل کیږي.

په ګمرکونو کې د اسیکوډا سیستم د کاروني پړاوونه:

- کله چې سوداګریز توکي ګمرک ته داخلیږي لومړی د اسیکوډا په اینکس سیستم کې ثبتیږي.
- له ثبت وروسته د اړوند ګمرک ګدام ته انتقالیږي.
- له ګدام وروسته د مرستې میز ته وړل کیږي.
- د مرستي میز څخه وروسته توکي په فزیکي ډول تشریح او قیمت ګذاري کیږي.
- له قیمت ګذارۍ وروسته سوداګر ته بانکي تعرفه ورکول کیږي.
- سوداګر بانکي تعرفه تحویلوي او له تحویلۍ وروسته ګمرکي اظهارلیک ورکول کیږي، چې له دې سره ګمرکي پړاوونه پای ته رسیږي.

د یادوني وړ ده، چې د اسیکوډا سیستم سوداګرو ته د اسانتیا برابرولو ترڅنګ د ارقامو، راپور ورکوني، دقت، چټکتیا او د عوایدو په راټولولو کې شفافیت رامنځته کړی دی، چې اوس مهال د هېواد ټول ګمرکونه له اسیکوډا سیستم سره وصل شوي دي او (۲۴) ساعته فعالیت کوي.

**ګام په ګام د بریښنایي حکومتولۍ په لور**

**د امتیاز خاوند:** د مالیې وزارت
**مسؤل مدیر:** احمد ولي حقمل
**مرستیال:** محمد نبي سلطاني
**کتنپلاوي:**
ندا محمد صدیقي
عبدالرحمن سجاد
ابراهیم ګران
اجمل زاهد
**د خبر مدیر:** داود نظري
**خبریال:** سید مصطفی سروش
**د معلوماتو راټولوونکی:** محمد افضل الکوزی
**عکاس:** فضل احمد یوسفزی
**ډیزاینر:** محمد نسیم ظهوري

**د مالیې وزارت د لاسته راوړنو، خبرونو، کنفرانسونو، خبرتیاوو، غونډو، داوطلبۍ اعلانونو، د املاکو د قراردادونو او نورو مالیاتي مسایلو څخه د خبریدا لپاره لاندي آدرسونه کتلای سئ:**

**ویبپاڼه:** mof.gov.af
**ټویټر:** @afghanistanmof
**یوټیوب:** afghanistan mof
**فیسبوک :** د مالیې وزارت، وزارت مالیه

# له ژوند سره د ژوندیو انسانانو چلند باید څنګه وي؟

د مالیې وزارت د حقوقي بورد
غړی ابو محمد ابراهیمي

د انسان د پیدایښت له ورځې څخه یې شروع کړه بیا تر نن ورځې پورې په دې اوږده مزل یا تیر تاریخ کې انسانانو له ډول ډول ربړونو او تکلیفونو سره لاس او ګریوان شوي دي په پیل کې به دا ربړونه، ستونزې اوتکلیفونه یوډول ول او بیا په مرور د زمان سره دغه تکلیفونه، ستونزې د انسانیت د دښمنانو لخوا تغیریدلې کله به یې د ځمکې پرمخ د کائیناتو لوی پیدا کوونکي ته سپکاوی کاوه او عزیر به یې د خدای تعالی زوی باله کله به یې د بشریت ستر لارښود او د مدنیت لومړني بسنتګر او د ځمکې پرمخ د وروستني پیغمبرته سپکې سپورې ویلې او ډول ډول ربړول او ځورول به یې ورته کول.

دغه ربړونه که د شیطاني او طاغوتي ډلو لخوا ؤ، که د کفري او یهودي فرقو او طبقو لخوا ؤ په هر عصر او زمان کې یې فرق درلود که د مکې دیارلس کلنه دورې ته وګورو اویاهم د مدینې لس کلنه دورې ته فکر وکړو هرې مرحلې یې خورا زیات توپیرونه لرل او ډول ډول مشکلات او تکلیفونه یې درلودل.

خو دې ټولو دسیسو او فتنو ته په قرآني مبارکو آیتونو اونبوي ملغلروکې پوره وضاحت ورکړل شوی دی اوپه ښه توګه تشریح شوي دي او د ځمکې پرمخ با احساسه، ژوندي انسانان او په دین مین مؤمنان لله الحمد ترې خبر دي.

په ټوله کې د ځمکې پرمخ ټول یهود، کفار او هماغه فتنه ګر د هرعصر او زمان مطابق خپلې برنامې او پلانونه د مسلمانانو پرضد پرمخ بیا یې او کفري هېوادونه او کفري نړۍ د اسلام پر خلاف له ډېرو لارو چارو څخه کار اخلي د بېلګې په ډول د اسلامي امت ګمراه کول، د مسلمانانو د عقایدو، شریعت، کلتور، تهذیب، تاریخ، سیاست، وروسته پاتې کېدو، د ملي ثروتونو لمنځه وړل، د پرمختګ مخه ډب کول، له ټکنالوژۍ بې برخې کول، د اسلام د سپېڅلي دین بد نامول، مذهبي او فرقه یي تعصبونو رامنځ ته کول، دعدالت د رامنځ ته کیدو په موخه اقلیتونو را پارول، نفاق ته تشویقول اولمن وهل، مقدساتو ته توهین، د نارینه او ښځینه د حقونو او یاد بشر دحقوقونو د ملاتړ په نوم د فحشا خورول، ملي او اسلامي ارزښتونو ته سپکاوی، د بیلا بیلو چینلونواو میډیا له لارې د مسلمانانو د نوی نسل پل ذهنونو کې د زهرو پاشل، مسلمانو کورنیو جوړښتونه لمنځه وړل او... .

په حقیقت کې کفری نړۍ په اسلامي هیوادونو کې چې کومې جګړې پیل کړې دي د کفارو د ارزښتونو د ترلاسه کولو لپاره په لاره اچول شوې دي او کفار غواړي د مسلمانانو ترمنځ جنګونو رامنځ ته کړي ترڅو له همدې لارې څخه د مسلمانو هېوادونو شتمنۍ او ثروتونه غارت کړي، د پرمختګ مخه یې ډب کړي، د خپلو خرابو او بې کیفیته موادو د خرڅلاو لپاره ورته مارکېټ همدا ښکیل هېوادونه پیدا کړي، اقتصاد یې لمنځه لاړشي اوبلا آخیره سوکه سوکه مسلمان هیوادونه او مسلمان له پښو وغورځوي او تل یې لاسونه دوی ته محتاج نیولي وي.

حقیقت دادی چې که موږ او تاسو یعنې ژوندي انسان با احساسه او با ایمانه انسانان هغه چې د ځمکې پرمخ د کفارو دسیسو ته متوجه دي هغه باید د رسول الله ص د زمانې او دهغه مهال د غزاګانو او د هغه مهال فتوحاتو ته ځیر شي چې هغه د څه لپاره ترسره شوې دي؟ باید ووایو چې هغه غزاګانې چې کفار ورته د جنګونو نوم ورکوي هغه د عدالت د رامنځ ته کېدو او انسان د انسان له بندګۍ څه د ژغورنې او د یوازني لوی رب بندګۍ ته د دعوت او له بود پرستۍ، اور پرستۍ، بغاوت او جاهلیت د نابودۍ لپاره ترسره شوي دي.



په افغانستان کې ۴۹ کاله وړاندې کله چې سردار محمد داود خان په ۲۶ د سرطان ۱۳۵۲ هجري لمریزکال د ظاهر شاه د سلطنت پرضد کومه کودتاه وکړه او د هغه شاهي نظام یې رنګ او جمهوریت یې رامنځ ته او پنځه کال یې جمهوریت دوام وکړ د جمهوریت په همدې پنځه کلنه دوره کې دخلق او پرچم ډلو فعالیتونه ډېر شول او داودخان د یو شمیر با احساسه مسلمانانو په اعدامونو لاس پورې کړ د نمونې په توګه د شهید انجینرحبیب الرحمن اوملګرو اعدامول یې یادولای شو چې بیا تر هغې وروسته(۴۴)کاله وړاندې ۱۳۵۷ هجري لمریزکال د غوایي په اوومه په ګران هېواد باندې د خلق او پرچم ګوندونو د کمونستانو پرمټ کومه خونړۍ کودتاه وکړه د افغانستان د بدبختۍ او ورانۍ توره دوره له هماغه ورځې پیل شوه او د هماغو کمونیستانو پر همکارۍ روسانو زموږ پر پاکه خاوره یرغل وکړ او د دې خاورې باتورو بچیانو د هغې پرووړاندې سخت غبرګون وښود ملت یې پرضد راپورته او روسان یې له ملک نه تېښتې ته اړ کړل او ګران هېواد یې آزاد کړ خو متاسفانه وروسته چې کله مجاهدین واک ته ورسیدل کورنیو اوبهرنیو د سیسو آرام پرې نه ښودل چې اسلامي حکومت رامنځه کړي او کور په کور جګړې پیل شوې اود پلازمینې کابل په شمول یوشمیر مهم ښارونه د شورای نظار په نوم یوې جنګي ډلګۍ په لاس کې ولویدل او د خپلو رقیبانو او جهادي تنظیمونو سره یې د قدرت د تقسیم پر سر په ټول هېواد کې کور په کور جګړې پیل کړې چې بلاخره د هغه وخت بې عدالیو، ظلمونو او پاټک سالاریو پرضد په لومړي سر کې له کندهاره د طالبانو اسلامي تحریک رامنځ ته شو او پاټکیان او جنګسالاران یې تر کولاب، دوشنبې، تاشکند او مشهد پورې و ځغلول او په افغانستان کې اسلامي حکومت رامنځ ته شو چې متاسفانه کفري نړۍ هغه نظام هم ونه شو زغملای او په ډېره سپین سترګی یې د ۱۳۸۰ کال د تلې یا میزان د میاشتې په ۱۵ مه افغانستان یرغل وکړ او کابل یې یوځل بیا د شورای نظار ډلګۍ په واک کې ورکړ.

له هغې وروسته امریکایانو په ډېر کبر او ظلم په ګران هیواد باندې ۲۰ کاله قبضه وکړه چې لله الحمد افغان باتور ملت د غیرتي او مېړنیو افغانانو په دین او وطن مینو ځوانانو یې پرووړاندې سخت مقاومت وکړ او شل کاله یې له امریکایانو سره چې له څلویښتو زیات ملکونو څخه چې د ناټو په شمول یې غربي ټلوالې یې ملګرتیا کوله او په پرمختللیو جنګي وسایلو سمبال او په ملیاردونو ډالر یې شیندل زموږ په ګران هیواد اشغال کړی وو یوځل بیا د ګران هیواد آزادي چې د دې باتورافغانانو مشري د طالبانو اسلامي تحریک کوله وې وګټله او امریکا ته یې ماتې ورکړه چې دادی اوس لله الحمد دامهال په ګران هیواد کې یو قوي او مقتدر اسلامي نظام حاکم دی.

پاتې د نه وي چې نن بیا د بهرنیو دسیسه کارانو د مزدورانو او د اسلام ضد کړیو لخوا د ګران هیواد د نا امنۍ، اقتصادي بندیزونو او بیکارۍ رامنځ ته کولو بیلا بیلو ستونزو د ایجادولو هڅې کیږي چې ډاډه یم چې له شرمندګۍ سره به مخ او هیڅ شی به ترلاسه نه شي کړ.

قدرمنو لوستونکیو:

خپله لیکنه او مقاله را نغاړم او هغه دا چې په دې موضوع چې هرڅومره ډېرې خبرې او تبصرې ذکر شي عبث او بېځایه به نه وي په ټوله کې مې هدف دانسان د ژوند ژغورل دي دا که د نړۍ په سطحه وي که د یو هېواد یعنې افغانستان په سطحه وي اویاهم د یوکور په سطحه وي چې باید ژوندیو انسانانو ته یې په ګوته کړم او ورته ووایم چې مسلمانه ځوانه، با ایمانه ځوانه، دحضرت محمد ص امتي، افغانه او د ۵۰۰۰ کلن تاریخ لرونکیه، پام کوه چې بې حوصلې نه شې او په ګران هیواد باندې دا د اقتصادي خرابې چپې راتګ او دې اوسني حالت ته بې صبره نه شې حالات سمې خواته تلونکي دي، له دې حالت څخه د خلاصون لپاره د ډېرې ستونزې او تکلیفونه ګاللي دي لږ صبر وکړه، ځان د قاچاق کوونکیو او د خلیج د اوبو د کبښتیو اوماهیانو خوراک مه کوه او د ګاونډیو هیوادونو د بندیخانو او جیلونو بندي له ځانه مه جوړوه، له ناهیلۍ او د شیطان د ملګرتیا څخه ځان خلاص کړه، راپورته شه د خپل ژوند د جوړېدو لپاره لاس په کار شه حرکت وکړه او هغه په بازار کې پلې سړي ته وګوره چې په یوه خلته کې یې یو کیلو ایل نیولی دی او په خلکو باندې یې پلوري او د خپلو بچو لپاره حلاله ډوډۍ پیدا کوي ته هم همداسې وکړه او د بشریت تاریخ ته لږ سر ورښکاره کړه د کفارو اویهودو د سیسې لا ادامه لري دا لړۍ به ترهغې دوام کوي ترڅو چې انسانان د ځمکې پرمخ ژوند کوي دا به درسره وي ژوندی اوبا احساسه انسان ته په کار ده چې له ژوند سره مبارزه وکړي، چالشونو او مشکلاتو تر تاثیر لاندې رانشي او هڅه وکړي او د دې مبارزې له لارې خپل دین، خپل هیواد ته او خپلو بچو ته خدمت وکړي.

په درنښت په افغانستان کې د تلفاتي سولې او یو قوي او مضبوط اسلامي نظام په هیله

د شتمنۍ اوونیزه د ټولو قدرمنو لوستونکو د مقالو مننونکې ده؛ مقالې باید اقتصادي او د مالیې وزارت سره سمې وي.
له ټولو درنو همکارانو او د هیواد له لیکوالو هیله کوو، چې خپلې مقالې د دغه بریښنالیک magazine@mof.gov.af له لارې موږ ته رالیږئ.